دافغانستان اسلامي جمهوريت

دعدليې وزارت

# رسمي جريده

## فوق العاده گڼه

Ketabton.com

• د افسرانو، بريدملانو او ساتنمنانو د ذاتي چارو قانون

• قانون امور ذاتي افسران، بريدملان و ساتنمنان


دخپرېدونېټه: د۱۳۹٦هـ.ش کال دلړم دمياشتې (۲۰)

پرله پسې نمبر:(۱۲۷۲)

تاريخ نشر: (۲۰) عقرب سال ۱۳۹٦ هـ . ش

نمبر مسلسل: (۱۲۷۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم:محمد جان | ۰۷۴۷٦۲۷۹۳۰ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت(به اساس قرارداد): (۴۰،۳۲)افغانی

تیراژ چاپ: (۱۰۰۰)جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۱۰۸)صفحه

مطبعه: پرویـــــز

آدرس:وزارت عـــدلیه،ریاست نشرات و ارتباطعـــامه،سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان (شیرپور)کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو**
**د ذاتي چارو د قانون د توشېح په**
**هکله د افغانستان د اسلامي**
**جمهوریت د رئیس**
**تقنیني فرمان**

گڼه: (۱۵۸)

نېټه: ۱۴/ ٦/ ۱۳۹٦

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د (۱٦) فقرې او نهه اویایمې مادې د حکمونو له مخې، د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو د ذاتي چارو قانون چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۳/ ٦/ ۱۳۹٦ نېټې د (۱۰) گڼه مصوبې پر بنسټ، د (۹) فصلونو او (۹۱) مادو په دننه کې، تصویب شوې ده، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو د ذاتي

**فرمان تقنینی**
**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**
**در مورد توشیح قانون امور ذاتی**
**افسران، برید ملان**
**و ساتنمنان**

شماره: (۱۵۸)

تاریخ: ۱۳۹٦/٦/۱۴

**مادۀ اول:**

به تأسی از احکام فقرۀ (۱٦) مادۀ شصت و چهارم و مادۀ هفتاد ونهم قانون اساسی افغانستان قانون امور ذاتی افسران، بریدملان و ساتنمنان را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۰) مؤرخ ۱۳۹٦/٦/۱۳ کابینه جمهوری اسلامی افغانستان بداخل (۹) فصل و (۹۱) ماده تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

**مادۀ دوم:**

وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، قانون امور ذاتی افسران، بریدملان و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو قانون او دغه فرمان د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې هغې شوري ته وړاندې کړي.

**درېيمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د افغانستان د اسلامي جمهوريت د کابينې له مصوبې او د نوموړي قانون له متن سره يوځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

ساتنمنان و این فرمان را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسهٔ شورای ملی به آن شورا تقدیم نمایند.

**مادهٔ سوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبهٔ کابینه جمهوری اسلامی افغانستان و متن قانون مذکور در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو د ذاتي چارو د قانون د طرحې په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کابینې مصوبه

ګڼه: (۱۰)

نېټه: ۱۳/ ٦/ ۱۳۹٦

د افغانستان د اساسي قانون د (۷۹) مادې د حکم له مخې د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو د ذاتي چارو د قانون طرحه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۳/ ٦/ ۱۳۹٦ نېټې په غونډه کې، د (۹) فصلونو او (۹۱) مادو په دننه کې، تصویب شوه.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح قانون امور ذاتی افسران، بریدملان و ساتنمنان

شماره: (۱۰)

تاریخ: ۱۳۹٦/٦/۱۳

به تأسی از حکم مادهٔ (۷۹) قانون اساسی افغانستان، طرح قانون امور ذاتی افسران، بریدملان و ساتنمنان به داخل (۹) فصل و (۹۱) ماده در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹٦/٦/۱۳ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردید.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست مندرجات

## قانون امور ذاتی افسران، بریدملان و ساتنمنان

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۱۰ |
| مادهٔ دوم: | هدف | ۱۰ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۱۰ |
| مادهٔ چهارم: | ساحهٔ تطبیق | ۱۵ |
| مادهٔ پنجم: | ردیف و رتبه افسر، بریدمل و ساتنمن | ۱۵ |
| | **فصل دوم** | |
| | **تقرر، استخدام و تبدیلی** | |
| مادهٔ ششم: | شرایط تقرر | ۱۷ |
| مادهٔ هفتم: | شرایط تقرر دوهم بریدمن یا دوهم څارن | ۱۹ |
| مادهٔ هشتم: | شرایط استخدام بریدملان و ساتنمنان | ۲۱ |
| مادهٔ نهم: | تبدیلی افسران، بریدملان و ساتنمنان | ۲۲ |
| مادهٔ دهم: | صلاحیت تقرر و تبدیلی | ۲۴ |
| مادهٔ یازدهم: | توظیف سرپرست | ۲۷ |
| مادهٔ دوازدهم: | تحلیف | ۲۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل سوم

## حقوق، امتیازات و وجایب

مادۀ سیزدهم: حقوق و امتیازات.......................................۲۹
مادۀ چهاردهم: اجرای حقوق و امتیازات...............................۳۰
مادۀ پانزدهم: یکماهه معاش حین تقرر...............................۳۱
مادۀ شانزدهم: معاش امتیازی...........................................۳۲
مادۀ هفدهم: خدمات صحی رایگان.....................................۳۴
مادۀ هجدهم: معاش و امتیازات مدت تداوی.......................۳۵
مادۀ نزدهم: تقدیر افسر، بریدمل یا ساتنمن.........................۳٦
مادۀ بیستم: کرایه و سفریه...............................................۳٦
مادۀ بیست ویکم: حقوق و امتیازات دورۀ تحقیق و محاکمه...............۳۷
مادۀ بیست دوم: اسکان...................................................۳۹
مادۀ بیست وسوم: وجایب.................................................۳۹

## فصل چهارم

## موقف های افسر، بریدمل و ساتنمن

مادۀ بیست وچهارم: موقف ها...........................................۴۱
مادۀ بیست وپنجم: موقف اصلی.........................................۴۲
مادۀ بیست وششم: موقف خدمتی......................................۴۲
مادۀ بیست وهفتم: موقف آموزش یا تحصیل.........................۴۲
مادۀ بیست وهشتم: حقوق و امتیازات دورۀ تحصیل و آموزش...............۴۳
مادۀ بیست ونهم: موقف احتیاط فعال..................................۴۴
مادۀ سی ام: حقوق موقف احتیاط فعال................................۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادۀ سی ویکم: موقف احتیاط غیر فعال...............................۴۸
مادۀ سی ودوم: حالت اضطرار و سفربری...............................۴۹
مادۀ سی وسوم: حقوق و امتیازت دورۀ خدمت احتیاط غیر فعال.........۵۰
مادۀ سی وچهارم: احضار از موقف احتیاط غیر فعال.....................۵۱
مادۀ سی وپنجم: ختم دورۀ خدمت احتیاط غیر فعال.....................۵۲
مادۀ سی وششم: حقوق شهادت...........................................۵۲

فصل پنجم

ترفیع افسر، بریدمل یا ساتنمن

مادۀ سی وهفتم: ترفیع افسر...........................................۵۳
مادۀ سی وهشتم: ترفیع بریدمل و ساتنمن..............................۵٦
مادۀ سی ونهم: امور مربوط به ارزیابی اجراآت.........................۵۸
مادۀ چهلم: موعد اجرای ترفیع...........................................۵۸
مادۀ چهل ویکم: خانه پری سجل ترفیع..................................۵۹
مادۀ چهل و دوم: ترفیع فوق العاده......................................٦۰
مادۀ چهل و سوم: منظوری ترفیع........................................٦۲
مادۀ چهل و چهارم: محاسبه مدت اسارت یا مفقودی در.....................
قدم ترفیع و تقاعد...........................................٦۲

فصل ششم

رخصتی افسر، بریدمل و ساتنمن

مادۀ چهل و پنجم: رخصتی های سالانه....................................٦۴
مادۀ چهل وششم: انتقال رخصتی تفریحی.................................٦۵
مادۀ چهل و هفتم: رخصتی فریضۀ حج و ازدواج...........................٦۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادۀ چهل و هشتم: رخصتی ولادی.......................... ٦۵
مادۀ چهل ونهم: رخصتی تشویقی و امتیازی.......................... ٦٦
مادۀ پنجاهم: محاسبه رخصتی به قدم ترفیع و تقاعد.................. ٦۷
مادۀ پنجاه ویکم: طرزالعمل استفاده از رخصتی ها...................... ٦۷
مادۀ پنجاه ودوم: تأدیب و تعقیب عدلی حین غیر حاضری................ ٦۸

## فصل هفتم

## انفصال

مادۀ پنجاه وسوم: حالات انفصال........................................ ۷۰
مادۀ پنجاه وچهارم: استعفاء.................................................. ۷۱
مادۀ پنجاه وپنجم: مکلفیت درخواست دهنده استعفاء...................... ۷۲
مادۀ پنجاه وششم: انفصال از وظیفه.......................................... ۷۳

## فصل هشتم

## تقاعد

مادۀ پنجاه وهفتم: تقاعد........................................................ ۷۴
مادۀ پنجاه وهشتم: مطالبه تقاعد (تقاعد داوطلبانه)........................ ۷۵
مادۀ پنجاه ونهم: حالات تقاعد................................................ ۷٦
مادۀ شصتم: محاسبه حقوق تقاعد............................................. ۷۸
مادۀ شصت ویکم: تمدید خدمت و رفع تقاعد.................................. ۷۹
مادۀ شصت ودوم: سهمیه ذخیره تقاعد........................................ ۸۰
مادۀ شصت وسوم: محاسبه مدت تحصیل در خدمت و حقوق تقاعد....... ۸۱
مادۀ شصت وچهارم: محاسبه خدمت........................................... ۸۱
مادۀ شصت وپنجم: تثبیت و معتبر شمردن سن مندرج دفتر سوانح......... ۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادۀ شصت وششم: محاسبه امتیازات جزء معاش.........۸۳
مادۀ شصت وهفتم: طرز سنجش مدت خدمت حین تقاعد.........۸۳
مادۀ شصت وهشتم: اندازه حقوق تقاعد.........۸۴
مادۀ شصت ونهم: مساعدت مالی حین تقاعد.........۸٦
مادۀ هفتادم: حقوق تقاعد افسر، بریدمل و ساتنمن متوفی.........۸۷
مادۀ هفتاد ویکم: پرداخت حقوق تقاعد در صورت شهادت و معلولین....۸۸
مادۀ هفتاد ودوم: تصدیق معلولیت.........۸۹
مادۀ هفتاد وسوم: حقوق تقاعد افسر، بریدمل و ساتنمن مفقود.........۹۰
مادۀ هفتاد وچهارم: حقوق تقاعد محلصین، متعلمین و مداومین.........۹۰
مادۀ هفتاد وپنجم: حرمان از حقوق تقاعد.........۹۲
مادۀ هفتاد وششم: قطع حقوق تقاعد در حالت احضار در موقف احتیاط...۹۳
مادۀ هفتاد وهفتم: حقوق تقاعد در صورت انفصال و عدم خلع رتبه.......۹۳
مادۀ هفتاد وهشتم: عضویت بورد مشورتی.........۹۴
مادۀ هفتاد ونهم: قطع حقوق تقاعد در صورت رفع تقاعد.........۹۵
مادۀ هشتادم: افزودی حقوق تقاعد.........۹۵
مادۀ هشتاد ویکم: محرومیت بازمانده از حقوق تقاعد.........۹۵
مادۀ هشتاد ودوم: رسیدگی به شکایات متقاعدین.........۹٦
مادۀ هشتاد وسوم: پاداش خدمت.........۹۷

## فصل نهم

## احکام متفرقه

مادۀ هشتاد وچهارم: کارکنان خدمات ملکی.........۹۸
مادۀ هشتاد وپنجم: استفاده از امتیازات.........۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادۀ هشتاد وششم: تثبیت و تعدیل رتبه ملکی به نظامی..................۹۸
مادۀ هشتاد وهفتم: یونیفورم..................................................۹۹
مادۀ هشتاد وهشتم: تخلفات انضباطی و دسپلینی..........................۱۰۰
مادۀ هشتاد ونهم: وضع مقرره وطرزالعمل ومراقبت ازتطبیق یکسان قانون.۱۰۰
مادۀ نودم: پلان تطبیقی تقاعد.........................................۱۰۱
مادۀ نود ویکم: انفاذ...........................................................۱۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو د ذاتي چارو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون په پنځمه ماده او دخلورشپېتمې مادې په (۱۳) جزء کې د درج شوو حکمونو په رڼا کې، وضع شوی دی.

**موخه**

**دوه یمه ماده:**

د دې قانون موخه د ملي اردو، ملي پولیسو، ملي امنیت او د نظامي تشکیلاتو لرونکو نورو وزارتونو او ادارو د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو د ذاتي چارو تنظیم ده.

**اصطلاحگاني**

**درېیمه ماده:**

راتلونکي اصطلاحگاني پدې قانون کې لاندې مفاهیم افاده کوي:

## قانون امورذاتی افسران، بریدملان وساتنمنان

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این قانون در روشنی احکام مندرج مادهٔ پنجم وجزء (۱۳) مادهٔ شصت وچهارم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**هدف**

**مادهٔ دوم:**

هدف این قانون تنظیم امور ذاتی افسران، بریدملان وساتنمنان اردوی ملی، پولیس ملی، امنیت ملی و سایر وزارت ها وادارات دارای تشکیلات نظامی می باشد.

**اصطلاحات**

**مادهٔ سوم:**

اصطلاحات آتی دراین قانون مفاهیم ذیل را افاده می کند:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- افسر: هغه شخص دی چې له دوه یم بریدمن څخه تر سترجنرال رتبه یا له دوه یم څارن څخه تر ستر پاسوال پورې رتبه یې د قانون له حکمونو سره سم ترلاسه (کسب) کړې وي.

۲- بریدمل: هغه شخص دی چې له پرکمشر څخه تر قدمدار سر پرکمشر پورې رتبه یې د قانون له حکمونو سره سم ترلاسه کړې وي.

۳- ساتنمن: هغه شخص دی چې له دریم ساتنمن څخه تر لومړي ساتنمن پورې رتبه یې د قانون له حکمونو سره سم ترلاسه کړې وي.

۴- د عالي رتبه افسرانو پر تعییناتو څارنې عالي بورد: هغه بورد دی چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس په حکم رامنځته شوی، او په دفاعي او امنیتي سکتور کې د اصلاحاتو د بهیر د چټکولو او روڼتیا په منظور د عالي رتبه افسرانو تعیینات، ددې قانون له حکمونو سره سم بررسي او تر څارنه کوي.

۵- خالي بست: د تشکیلاتو جزء دی

۱- افسر: شخصی است که رتبهٔ دوهم بریدمن الی ستر جنرال یا رتبهٔ دوهم څارن الی ستر پاسوال را مطابق احکام قانون کسب نموده باشد.

۲- بریدمل: شخصی است که رتبه پرکمشر الی سرپرکمشرقدمدار را مطابق احکام قانون کسب نموده باشد.

۳-ساتنمن: شخصی است که رتبه دریم ساتنمن الی لومړی ساتنمن را مطابق احکام قانون کسب نموده باشد.

۴- بورد عالی نظارت بر تعیینات افسران عالی رتبه: بوردی است که به حکم رئیس جمهوری اسلامی افغانستان ایجاد گردیده، و به منظور تسریع روند اصلاحات و شفافیت در سکتور دفاعی و امنیتی، تعیینات افسران عالی رتبه را مطابق احکام این قانون بررسی و نظارت می نماید.

۵- بست خالی: جزء تشکیلات بوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې افسر، بریدمل یا ساتنمن په هغه کې تعیین شوی نه وي.

٦- ذاتي چارې: د نظامي سکتور د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو تقرر، استخدام، تبدیل، ترفیع، رخصتي، مکافات، تأدیب، انفصال، د احتیاط موقف، استعفاء، د رتبې تعدیل، د خدمت تمدید، تقاعد، رفع تقاعد او نور حقوق، امتیازونه او مکلفیتونه دي.

۷- ترفیع: د دې قانون له حکمونو سره سم له موجوده رتبې څخه یوې لوړې رتبې ته د افسر، بریدمل یا ساتنمن د رتبې ارتقاء ده.

۸- تقاعد: د افسر، بریدمل او ساتنمن د خدمت د دورې پای ددې قانون د نهه پنځوسمې مادې له درج شوو حکمونو سره سم ده.

۹- د تقاعد سهمیه: د پیسو ټاکلې فیصدي ده چې د افسر، بریدمل او ساتنمن له میاشتني معاش او د ادارې له بودجې څخه وضع او د تقاعد د خزینې حساب ته انتقالیږي.

که افسر، بریدمل یا ساتنمن در آن تعیین نگردیده باشد.

٦- امور ذاتی: تقرر، استخدام، تبدیل، ترفیع، رخصتی، مکافات، تأدیب، انفصال، موقف احتیاط، استعفاء، تعدیل رتبه، تمدید خدمت، تقاعد، رفع تقاعد وسایرحقوق، امتیازات و مکلفیت های افسران، بریدملان وساتنمنان سکتورنظامی می باشد.

۷- ترفیع: ارتقای رتبه افسر، بریدمل یا ساتنمن از رتبهٔ موجود به یک رتبهٔ بالاتر مطابق احکام این قانون می باشد.

۸- تقاعد: ختم دورهٔ خدمت افسر، بریدمل و ساتنمن مطابق احکام مندرج مادهٔ پنجاه ونهم این قانون می باشد.

۹- سهمیهٔ تقاعد: فیصدی معین پول است که از معاش ماهوار افسر، بریدمل وساتنمن و از بودجه اداره وضع وبه حساب خزینه تقاعدانتقال می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰- متقاعد: هغه افسر، بريدمل او ساتنمن چې د هغوی د خدمت دوره د تقاعد د سن پربنسټ بشپړه او ددې قانون له حکمونو سره سم د تقاعد د حقوقو مستحق پېژندل کېږي.

۱۱- د تقاعد حقوق: هغه وجوه دي چې متقاعد يا د هغهٔ ترشا پاتې (بازماندگانو) ته د دې قانون له حکمونو سره سم، ورکول کېږي.

۱۲- د متقاعد بازماندگان عبارت دي له:

- زوج، زوجه، بې مېړه لور او هغه زوی چې (۱۸) کلنی سن يې بشپړ کړی نه وي يا په تعليم او تحصيل مصروف وي يا معلول يا داسې ناروغ چې په دايمي صورت د کار په اجراء قادر نه وي او يا د عسکري مکلفيت په ترسره کولو بوخت وي.

- پلار، مور، بې مېړه خور او هغه ورور چې (۱۸) کلنی سن يې بشپړ کړی نه وي يا په تعليم او تحصيل مصروف وي يا معلول يا داسې ناروغ چې په دايمي صورت د کار په اجراء قادر نه وي او

۱۰- متقاعد: افسر، بريدمل وساتنمن که دورهٔ خدمت آنها به اساس سن تقاعد اکمال و مطابق احکام اين قانون مستحق حقوق تقاعد شناخته می شوند.

۱۱- حقوق تقاعد: وجوهی است که برای متقاعد يا بازماندگان وی مطابق احکام اين قانون پرداخته می شود.

۱۲- بازماندگان متقاعد عبارت اند از:

- زوج، زوجه، دختر بدون شوهر و پسر که سن (۱۸) سالگی را تکميل نکرده يا مصروف تعليم و تحصيل بوده يا معلول يا مريض ايکه به صورت دايمی قادر به اجرای کار نباشد ويا مصروف انجام خدمت مکلفيت عسکری باشد.

- پدر، مادر، خواهربدون شوهر وبرادری که سن (۱۸) سالگی را تکميل نکرده يا مصروف تعليم و تحصيل بوده يا معلول يا مريض ايکه به صورت دايمی قادر به اجرای کار نباشد

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا د عسکري مکلفیت د خــدمت پــه ترسره کولو بوخت وي، پدې شرط چې متقاعد افسر، بریدمل او ساتنمن د هغو د معیشت متکفل وي.

– د متوفي افسر، بریدمل او ساتنمن د حامله (امیدوارې) ښځې جنــین چــې ژوندی تولد شي.

۱۳– وروستی معاش: د افسر، بریدمل او ساتنمن د بست یا رتبې له اجــزاوو سره اصلي معاش دی چــې د بالفعــل خدمت په وروستۍ میاشت کې د کلني معاش تزئید ته په پام سره اجراء او له هغهٔ څخه د تقاعد فیصدي وضع شوې وي.

۱۴– د بالفعل خدمت دوره: د هغــهٔ خدمت د مودې مجموع ده چې افسر، بریدمل او ساتنمن د قانون له حکمونو سره سم په بالفعل توګه د ملــي اردو، ملي پولیسو، ملي امنیت او د نظــامي تشکیلاتو لرونکو نورو وزارتونــو او ادارو په لیکو (صفونو) کې ترسره کړې او د تقاعد سهمیه د هغو له میاشتني مزد څخه وضع شوې وي.

ویا مصروف انجام خدمت مکلفیــت عسکری باشد، مشروط براینکه افسر، بریدمل وساتنمن متقاعدمتکفل معیشت آنها باشد.

– جنین زن حاملهٔ افســر، بریــدمل وساتنمن متــوفی کــه زنــده تولــد گردد.

۱۳– آخرین معاش: معاش اصلی بــا اجــزای بســت یــا رتبــهٔ افســر، بریــدمل وســـاتنمن اســت کــه درآخرین مــاه خــدمت بالفعــل بــا نظرداشت تزئید معاش سالانه اجراء واز آن فیصدی تقاعد، وضــع گردیــده باشد.

۱۴– دورهٔ خدمت بالفعل: مجمــوع مدت خــدمت اســت کــه افســر، بریدمل وساتنمن مطابق احکام قــانون طور بالفعل در صفوف اردوی ملــی، پولیس ملی، امنیــت ملــی وســایر وزارت ها وادارات دارای تشــکیلات نظامی انجــام داده وســهمیهٔ تقاعــد از مزد ماهوار آنها وضــع گردیــده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵- نظامي سکتور: د ملي دفاع او د کورنيو چارو له وزارتونو د ملي ا منيت له عمومي رياست او د نظامي تشکيلاتو لرونکو نورو وزارتونو او ادارو څخه جوړ وي.

۱۶- اوپراتيفي احتياط قطعات: هغه قطعات دي چې افسر، بريدمل، ساتنمن او سرباز د عمومي احتياط له بنيې څخه د اړتيا پربنسټ د لواګانو او يا قول اردوګانو په څنګ کې د فعال کنډک په چوکاټ کې استخدامېږي او خدمت ته شاملېږي.

## د تطبيق ساحه

**څلورمه ماده:**

ددې قانون حکمونه د نظامي سکتور پر افسرانو، بريدملانو او ساتنمنانو تطبيقېږي.

## د افسر، بريدمل او ساتنمن رديف او رتبې

**پنځمه ماده:**

(۱) افسران له پورته څخه ښکته ته په لا ندې ترتيب سره په دريو رديفونو او

۱۵- سکتورنظامی: متشکل از وزارت های دفاع ملی و امور داخله، رياست عمومی امنيت ملی وسایر وزارت ها وادارات دارای تشکیلات نظامی می باشد.

۱۶- قطعات احتياط اوپراتيفی: قطعاتی است که افسر، بریدمل، ساتنمن و سرباز از بنيه احتياط عمومی بنابر ضرورت در چوکات کندک فعال در جنب لواها و يا قول اردوها در آن استخدام و شامل خدمت می گردند.

## ساحهٔ تطبيق

**مادهٔ چهارم:**

احکام اين قانون بالای افسران، بريدملان وساتنمنان سکتور نظامی تطبيق می گردد.

## رديف ورتب افسر، بريدمل و ساتنمن

**مادهٔ پنجم:**

(۱) افسران درسه رديف وده رتبه از بالا به پائين به ترتيب ذيل تصنيف

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسو رتبو کې تصنیف کېږي:

لومړی ردیف: په لاندې رتبوکې شامل عالي رتبه افسران:

۱- ستر جنرال یا ستر پاسوال.

۲- ډگرجنرال یا لوی پاسوال.

۳- تورن جنرال یا پاسوال.

۴- برید جنرال یا مل پاسوال.

دوه یم ردیف: په لاندې رتبو کې شامل لوړ رتبه افسران:

۱- ډگروال یا سمونوال.

۲- ډگرمن یا سمونمل.

۳- جگړن یا سمونیار.

دریيم ردیف: په لاندې رتبوکې شـــامل ځوان افسران:

۱- تورن یا څارمن.

۲- لومړی بریدمن یا لومړی څارن.

۳- دوه یم بریدمن یا دوه یم څارن.

(۲) بریدملان له پورته څخه ښکته ته په لاندې ترتیب سره په دوو ردیفونـــو او پنځورتبو کې تصنیف کېږي:

لومړی ردیف: په لاندې رتبو کې شامل لوړ رتبه بریدملان:

۱- قدمدار سرپرکمشر.

می گردند:

ردیف اول: افسران عالی رتبه شـــامل رتب ذیل:

۱- سترجنرال یا ستر پاسوال.

۲- دگرجنرال یا لوی پاسوال.

۳- تورن جنرال یا پاسوال.

۴- بریدجنرال یا مل پاسوال.

ردیف دوم: افسران بلند رتبه شـــامل رتب ذیل:

۱- دگروال یاسمونوال.

۲- دگرمن یاسمونمل.

۳- جگړن یا سمونیار.

ردیف سوم: افسران جوان شامل رتب ذیل:

۱- تورن یاڅارمن.

۲- لومړی بریدمن یا لومړی څارن.

۳- دوهم بریدمن یا دوهم څارن.

(۲) بریدملان دردو ردیف وپنج رتبه از بالا به پائین به ترتیب ذیـــل تصـــنیف می گردند:

ردیف اول: بریدملان بلند رتبه شـــامل رتب ذیل:

۱- سرپرکمشرقدمدار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د قدمدارسرپرکمشر مرستیال.

۳- سرپرکمشر.

دوه یم ردیف: په لاندې رتبو کې شامل پائین رتبه (د ټیټې رتبې) بریدملان:

۱- سرپرکمشر مرستیال.

۲- پرکمشر.

(۳) ساتنمنان له پورته څخه ښکته ته په لاندې ترتیب سره په یوه ردیف او دریو رتبوکې تصنیف کېږي:

۱- لومړی ساتنمن.

۲- دوه یم ساتنمن.

۳- دریيم ساتنمن.

## دوه یم فصل

## تقرر، استخدام او تبدیلي

**د تقرر شرایط**

شپږمه ماده:

(۱) هغه شخص د جدید التقرر افسر، بریدمل او ساتنمن په توګه منل کېدی شي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي:

۱- یوازې د افغانستان تابعیت ولري.

۲- ۱۸ کلنی سن یې بشپړ کړی او له

۲ – معاون سرپرکمشر قدمدار.

۳- سرپرکمشر.

ردیف دوم: بریدملان پائین رتبه شامل رتب ذیل:

۱- معاون سرپرکمشر.

۲- پرکمشر.

(۳) ساتنمنان دریک ردیف وسه رتبه از بالا به پائین به ترتیب ذیل تصنیف میگردند:

۱- لومړی ساتنمن.

۲-دوهم ساتنمن.

۳- دریيم ساتنمن.

## فصل دوم

## تقرر، استخدام وتبدیلی

**شرایط تقرر**

مادهٔ ششم:

(۱) شخصی به حیث افسر، بریدمل وساتنمن جدید التقررپذیرفته شده می تواند که واجد شرایط ذیل باشد:

۱- تنها تابعیت افغانستان را داشته باشد.

۲- سن ۱۸ سالگی را تکمیل واز

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰ کلونو څخه زيات نه وي.

۳- له افغان والدينو څخه زيږېدلی وي.

۴- بهرنی تبعه زوجه يا زوج ونلري.

۵- د سياسي ګوندونو غړيتوب ونلري.

۶- جسمي توانايي او رواني سلامتي ولري.

۷- د جنايت په جرم محکوم شوی نه وي.

۸- په مخدرو او مسکرو موادو معتاد (روږدی) نه وي.

۹- د نارينه وو قد له (۱۷۰) سانتي مترو او د ښځينه وو قد له (۱۵۵) سانتي مترو څخه لږ نه وي. د ملي اردو، ملي امنيت د عمومي رياست او د نظامي تشکيلاتو لرونکو نورو وزارتونو او ادارو افسران او بريدملان لدې حکم څخه مستثني دي.

(۲) هغه د شرطونو لرونکی افسر، بريدمل او ساتنمن چې په فعال احتياط کې دی يا له خالي بست څخه په ټيټه رتبه کې دنده ترسره کوي، په خالي

۳۰ سال بيشتر نباشد.

۳- ازوالدين افغان متولد شده باشد.

۴- زوجه يا زوج تبعه خارجی نداشته باشد.

۵- عضويت احزاب سياسی را نداشته باشد.

۶- توانايي جسمی وسلامت روانی داشته باشد.

۷- به جرم جنايت محکوم نگرديده باشد.

۸- به مواد مخدرو مسکرمعتاد نباشد.

۹- قد ذکور از (۱۷۰) سانتی متر وقد اناث از (۱۵۵) سانتی متر کمتر نباشد. افسران وبريدملان اردوی ملی، رياست عمومی امنيت ملی و ساير وزارت ها وادارات دارای تشکيلات نظامی از اين حکم مستثنی اند.

(۲) افسر، بريدمل و ساتنمن واجد شرايط که در احتياط فعال قرار دارد يا در رتبه پائين از بست خالی ايفای وظيفه مينمايد، حق اولويت تقرر در

(c) ketabton.com: The Digital Library



بست کې د تقرر د لومړیتوب حق لري.

(۳) د افسر، بریدمل او ساتنمن تقرر او استخدام د بست له موجودیت پرته جواز نلري.

## د دوه یم بریدمن یا دوه یم څارن د تقرر شرایط

اوومه ماده:

(۱) هغه شخص د دوه یم بریدمن یا دوه یم څارن په توګه مقررېدی شي چې ددې قانون په شپږمه ماده کې پر درج شوو شرایطو برسېره، د لاندې شرایطو لرونکي، هم وي:

۱- د کورنیو نظامي عالي تحصیلاتو له مؤسسو یا له هېواده بهر د ورته عالي تحصیلاتو له مؤسسو څخه دې د لېسانس سند ولري. پدې شرط چې د هغهٔ تحصیل له هېواده بهر د ورته تحصیلي مؤسسې د دولت په موافقې صورت موندلی وي.

۲- د ملکي عالي تحصیلاتو له مؤسسو څخه دې د لېسانس سند ولري،پدې شرط چې د اړوندې ادارې د مسلکي

بست خالی را دارد.

(۳) تقرروااستخدام افسر، بریدمل و ساتنمن بدون موجودیت بست جواز ندارد.

## شرایط تقرر دوهم بریدمن یا دوهم څارن

مادهٔ هفتم:

(۱) شخصی به حیث دوهم بریدمن یا دوهم څارن مقررشده می تواند که علاوه بر شرایط مندرج مادهٔ ششم این قانون، واجد شرایط ذیل نیز باشد:

۱- سند لیسانس ازمؤسسات تحصیلات عالی نظامی داخل یا مؤسسات تحصیلات عالی مشابه خارج کشوررا داشته باشد. مشروط بر اینکه تحصیل وی به موافقهٔ دولت به مؤسسه تحصیلی مشابه خارج کشورصورت گرفته باشد.

۲- سند لیسانس ازمؤسسات تحصیلات عالی ملکی را داشته باشد، مشروط بر اینکه دورهٔ آموزش اساسات

(c) ketabton.com: The Digital Library



(افسری کورس) د اساساتو د زده کړې دوره یې مؤفقانه تېره کړې وي، د پولیسو افسران لدي حکم څخه مستثني دي.

(۲) لوړ رتبه بریدملانو او د دوو لسمو ټولګیو فارغ لومړی ساتنمن د اړتیا په صورت کې د سوق او اداري د مهارت په لرلو، د اړونـدي اداري د تعلیمي مرکز د افسری کورس له مؤفقانه زده کړې وروسته د دوه یم بریدمن رتبې ته او د ملـي پولیسو په لیکوکې د افسری د یوکلنې تعلیمي دورې له مؤفقانه تېرولو وروسته د دوه یم څارن رتبې ته ارتقاء کوي.

(۳) د دوولسمو ټولګیو فارغانو تـه د اړوندې اداري د تعلیمي مرکز د افسری له کورس څخه له فراغت وروسته، د افسری لومړی (اولیه) رتبه ورکول کېږي. د لومړي بریدمن یا لومړي څارن رتبې ته د افسرانو ددغهٔ شان کتګوری نوبتي ترفیع، د خدمت د څلورکاله مودې له تېرولو وروسته، اجراء کېږي.

(۴) د مافوق بکلوریا تحصیلي سندونو

مسلکی(کورس افسری) ادارهٔ مربوط را مؤفقانه سپری نموده باشد، افسران پولیس از این حکم مستثنی اند.

(۲) بریدملان بلند رتبه و لومړی ساتنمن فارغ صنوف دوازدهم در صورت ضرورت باداشتن مهارت سوق و اداره، بعد از فراګیری موفقانهٔ کورس افسری مرکز تعلیمی اداره مربوطه به رتبه دوهم بریدمن و در صفوف پولیس ملی بعد از سپری کردن موفقانهٔ دورهٔ تعلیم یکسالهٔ افسری، به رتبهٔ دوهم څارن ارتقاء می نمایند.

(۳) برای فارغان صنوف دوازدهم بعد از فراغت از کورس افسری مرکز تعلیمی اداره مربوطه رتبهٔ اولیهٔ افسری اعطاء می ګردد. ترفیع نوبتی چنین کتګوری افسران به رتبهٔ لومړی بریدمن یا لومړی څارن بعد از سپری نمودن مدت چهار سال خدمت اجراء می ګردد.

(۴) برای فارغان دارای اسناد

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکو فارغانو ته د اړوندې اداري د تعليمي مرکز د افسرۍ له کورس څخه له فراغت وروسته د افسرۍ لومړۍ (اوليه) رتبه ورکول کېږي. د لومړي بريدمن يا لومړي څارن رتبې ته د افسرانو د دغۀ شان کتګورۍ نوبتي ترفيع د خدمت د درې کاله مودې له تېرولو وروسته اجراء کېږي.

(۵) د افسرۍ د لومړۍ رتبې ورکول، د ملي دفاع، کورنيو چارو د وزيرانو، د ملي امنيت د عمومي رئيس او د نظامي تشکيلاتو لرونکو وزارتونو او ادارو د هرې يوې په اړونده برخه کې د لومړۍ درجې اعطاء آمرينو واک دی.

(٦) له بکلوريا څخه د لوړ مؤفقانه تحصيل موده د افسر د خدمت په قدم او ترفيع کې محاسبه کېږي.

**د بريدملانو او ساتنمنانو د استخدام شرايط**

**اتمه ماده:**

(۱) هغه شخص د پرکمشر يا دريېم ساتنمن په توګه استخدام کېدی

تحصيلی مافوق بکلوريا بعد از فراغت از کورس افسری مرکز تعليمی اداره مربوطه رتبۀ اوليۀ افسری اعطاء می گردد. ترفيع نوبتی چنين کتگوری افسران به رتبۀ لومړی بريدمن يا لومړی څارن بعد از سپری نمودن مدت سه سال خدمت اجراء می گردد.

(۵) اعطای رتبه اولی افسری از صلاحيت وزرای دفاع ملی، اموداخله، رئيس عمومی امنيت ملی و آمرين اعطای درجه اول ادارات دارای تشکيلات نظامی هريک در بخش مربوط می باشد.

(٦) مدت تحصيل موفقانه بالا تر از بکلوريا در قدم خدمت و ترفيع افسر محاسبه می گردد.

**شرايط استخدام بريدملان وساتنمنان**

**مادۀ هشتم:**

(۱) شخصی به حيث پرکمشر يا دريېم ساتنمن استخدام شده می تواند

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چې د دې قانون په شپږمه ماده کې پر درج شوو شرایطو برسېره له نهم څخه تر دوولسم ټولګي فارغ وي او د ادارې د مسلکي اساساتو د زده کړې تعلیمي دورې يې د هېواد د ننه يا بهر له تعليمي مرکزونو څخه په يوهٔ کې مؤفقانه تېرې کړې وي.

(۲) هغه شخص د دوه يم ساتنمن په توګه استخدام کېدی شي چې د دې قانون په شپږمه ماده کې پر درج شوو شرایطو برسېره د پوهنې له وزارت څخه د بکلوريا د فراغت سند او د اړوندې ادارې له تعليمي مرکز او يا د اړوندې ادارې په موافقت د هېواد له بهر څخه د زده کړو د تعليمي دورو مؤفقانه سند ولري.

## د افسرانو، بريدملانو او ساتنمنانو تبديلي

**نهمه ماده:**

(۱) لوړ بست ته د افسر، بريدمل يا ساتنمن تبديلي له لاندې حالاتو څخه په يوه کې صورت موندلی شي:

که علاوه بر شرایط مندرج مادهٔ ششم این قانون فارغ صنف نهم الی دوازدهم بوده و دوره های تعلیمی آموزش اساسات مسلکی اداره را دریکی ازمراکز تعلیمی داخل یا خارج کشور موفقانه سپری نموده باشد.

(۲)شخصی به حیث دوهم ساتنمن استخدام شده می تواند که علاوه بر شرایط مندرج مادهٔ ششم این قانون سند فراغت بکلوریا را از وزارت معارف وسند موفقانه دوره های تعلیمی آموزش را ازمرکز تعلیمی اداره مربوطه ویا به موافقت اداره مربوطه از خارج کشور داشته باشد.

## تبدیلی افسران، بریدملان وساتنمنان

**مادهٔ نهم:**

(۱) تبدیلی افسر، بریدمل یا ساتنمن دربست بالا دریکی از حالات ذیل صورت گرفته می تواند:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د خالي بست موجوديت. په هغه صورت کې چې د شرطونو لرونکی افسر، بريدمل او ساتنمن موجود وي چې له خپلې رتبې څخه په ټيټ بست کې دنده ترسره کوي او يا د شرطونو لرونکی افسر، بريدمل او ساتنمن له بست سره متناسب په فعال احتياط کې موجود وي، پدغه حالت کې بست خالي نه شمېرل کېږي.

۲- د تحصيلي رشتې شرايطو ته په پام سره د ښو خدمتونو د وړاندې کولو ضرورت يا توانمني.

۳- د اضطرار او سفر برۍ حالت.

(۲) په ورته بست کې د افسر، بريدمل يا ساتنمن تبديلي ضرورت، امنيتي شرايطو او د قطعاتو او جزوتامونو موقعيت ته په پام سره صورت مومي.

(۳) له اصلي رتبې څخه په ښکته بست کې د افسر، بريدمل يا ساتنمن تبديلي په يوهٔ له لاندې حالاتو کې صورت موندلی شي:

۱- د اضطرار او سفربرۍ په حالت کې.

۱- موجوديت بست خالی. درصورتيکه افسر، بريدمل و ساتنمن واجد شرايط موجود باشد که در بست پائين از رتبه خود ايفای وظيفه مينمايد ويا افسر، بريدمل و ساتنمن واجد شرايط متناسب با بست در احتياط فعال موجود باشد، درين حالت بست خالی محسوب نمی گردد.

۲- ضرورت يا توانايی ارايه خدمات بهتر با نظرداشت شرايط رشتهٔ تحصيلی.

۳- حالت اضطراروسفربری.

(۲) تبديلی افسر، بريدمل يا ساتنمن دربست مشابه با نظرداشت ضرورت، شرايط امنيتی وموقعيت قطعات و جزوتام ها صورت می گيرد.

(۳) تبديلی افسر، بريدمل يا ساتنمن دربست پائين ازرتبه اصلی دريکی از حالات ذيل صورت گرفته می تواند:

۱- در حالت اضطرارو سفربری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- تشکیلاتي تنقیص.

۳- د صحي کمېسیون د نظــر پــر بنسټ.

۴- د مساعد سجل نه اخیستل.

(۴) هغه افسر، بریدمل یا ساتنمن چې ددې مادې په (۳) فقره کې تــر درج شوو شرایطو لاندې بنکته بســت تــه تبدیل شوی وي، د هغو دشرایطو پــه رفع کېدو سره په لوړ بست کې ټاکل کېدی شي.

(۵) افسر د بریدمل او ساتنمن په بست او بریدمل او ساتنمن د افسر په بست کې ټاکل کېدی نشي.

## د تقرر او تبدیلۍ واک

لسمه ماده:

(۱) د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو د تقرر، تبدیلۍ او ترفیع د بررســۍ او څارنې په منظور، د ملي دفاع، دکورنیو چارو وزارتونو او د ملي امنیــت پــه عمومي ریاست کې جلا کمېســیونونه رامنځته کېږي.

(۲) د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو

۲- تنقیص تشکیلاتی.

۳- بــه اســاس نظــــر کمیســـیون صحی.

۴- عدم اخذ سجل مساعد.

(۴) افسر، بریدمل یا ســاتنمن کــه تحت شــرایط منــدرج فقــرهٔ (۳) این ماده بــه بســت پــائین تبــدیل شده باشد، بــارفع شــرایط آن، بــه بســـــت بـــــالا تعیـــــین شـــــده می تواند.

(۵) افسردر بست بریدمل وســاتنمن وبریدمل و ساتنمن در بست افسر تعیین شده نمی تواند.

## صلاحیت تقرر وتبدیلی

مادهٔ دهم:

(۱) به منظور ارزیابی و نظارت تقرر، تبدیلی و ترفیع افسران، بریــدملان و ساتنمنان کمیسیون های جداگانــه در وزارت های دفاع ملی، امور داخله و ریاست عمومی امنیت ملــی ایجــاد می گردد.

(۲) پیشنهاد تقرر، تبدیلی و ترفیعــات

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تقرر، تبديلۍ او نوبتي او فوق العاده ترفيعاتو وړانديز ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي کمېسيون لـــه تأييد وروسته، صورت مومي.

(۳) د عالي رتبه افسرانو د تعييناتو د بورد له ارزونې وروسته د عالي رتبه افسرانو په بستونو کې د عالي رتبه افسرانو تقرر او تبديلي د ملي دفاع، کورنيو چارو د وزيرانو، د ملي امنيت د عمومي رئيس او د نظامي تشکيلاتو لرونکو وزارتونو او ادارو هر يـو پـه اړونده برخه کې د لومړۍ درجې اعطاء آمرينو په وړانديز او د جمهور رئيس، په منظورۍ صورت مومي.

(۴) د لوړ رتبه افسرانو په بستونوکې تقرر او تبديلي د قول اردو د قوماندانانو، د پوليسو د فرقې او زون، د ستردرستيز د قدمې د رئيسانو، د ولايتونو د امنيه قوماندانانو او د ملي امنيت د رئيسانو، د وزارتونو د معينانو او د نظامي تشکيلاتو لرونکو ادارو د مرستيالانو په وړانديز او د ملي دفاع د وزير، د کورنيو چارو د وزير،

نوبتی و فوق العادۀ افسران، بريدملان و ساتنمنان بعد از تائيد کميسيون مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، صورت می گيرد.

(۳) تقرر وتبديلی افسران عالی رتبه در بست های افسران عالی رتبه بعد از ارزيابی بورد تعيينات افسران عالی رتبه به پيشنهاد وزير دفاع ملی، وزير امور داخله، رئيس عمومی امنيت ملی و آمرين اعطای درجه اول وزارت ها و ادارات دارای تشکيلات نظامی هريک در بخش مربوطه و منظوری رئيس جمهور، صورت می گيرد.

(۴) تقررو تبديلی دربست های افسران بلند رتبه به پيشنهاد قوماندانان قول اردو، فرقه وزون پوليس، رؤسای قدمه ستردرستيز، قوماندانان امنيه ولايات و رؤسای امنيت ملی، معينان وزارت ها و معاونين ادارات دارای تشکيلات نظامی و منظوری وزير دفاع ملی، وزير امورداخله، رئيس عمومی امنيت ملی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملي امنيت د عمــومي رئـيس او د نظامي تشكيلاتو لرونكــو ادارو لومړۍ درجې اعطاء آمرينو په منظورۍ د هر يو په اړونده برخه كې صورت مومي.

(۵) د ځوانو افسرانو په بستونو كــې تقرر او تبديلي د قوماندانانو او اړوندو رئيسانو په وړانديز او د ملي دفــاع د وزير د لومړي معاون، لوی درستيز، د كورنيو چارو د وزارت د امنيتي ارشد معين، د ملي امنيت د عمومي رياست د لومړي معاون او د نظامــي تشكيـــلاتو لرونكو ادارو د لومړۍ درجې اعطـــاء آمرينو په منظورۍ هر يو په اړونده برخه كې صورت مومي.

(٦) د بريدملانو او ساتنمنانو تقـــرر او تبديلي د قوماندانانو، رئيسانو او د كادر او پرسونل (پېژند) د مدير په وړانديز او د قول اردو، فرقې، د پوليسو د زون د قوماندان او د نظامي تشكيلاتو لرونكو د لومړۍ درجې اعطـــاء آمرينـــو پـــه منظورۍ هر يو په اړونده برخـــه كـــې صورت مومي.

(۷) د ملي دفاع وزير، د كورنيو چارو

آمـــــرين اعطــــــای درجــــــه اول ادارات دارای تشـــــكيلات نظـــــامی هريک در بخـــش مربوطـــه صـــورت می گيرد.

(۵) تقررو تبـــديلی در بســـت هـــای افسران جوان به پيشنهاد قوماندانان و رؤسای مربوطه ومنظوری معاون اول وزير دفاع ملی، لوی درستيز، معـــين ارشـــد امنيتـــی وزارت اموردداخلـــه، معاون اول رياست عمومی امنيت ملی و آمـــــرين اعطــــــای درجــــــه اول ادارات دارای تشكيلات نظامی هريک در بخـــــش مربوطـــــه، صــــــورت می گيرد.

(٦) تقرروتبديلی بريدملان وساتنمنان به پيشنهاد قوماندانان، رؤســا و مـــدير كادر وپرسونل (پيژنـــد) و منظـــوری قوماندان قول اردو، فرقه، زون پوليس وآمـــــرين اعطــــــای درجــــــه اول ادارات دارای تشكيلات نظامی هريک در بخــــش مربوطـــــه صـــــورت می گيرد.

(۷) وزير دفاع ملی، وزير امور داخله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر، د ملي ا منیت عمومي رئیس او د نظامي تشکیلاتو لرونکو ادارو د لومړۍ درجې اعطاء آمرین کولای شي، حسب لـــزوم، د اړونـــدو ردیفونـــو پـــه واک کې شامل افسران، بریـــدملان او ساتنمنان په اړتیاوو بستونو کې مستقیماً مقـــــــــرر، اســـــــــتخدام او تبدیل او یا خپل صلاحیت ترلاس (اثر) لانـــــدې قـــــدموآمرینو تـــــه وسپاري.

(۸) د ملي دفاع وزیر، د کورنیو چارو وزیر، ملي امنیت عمومي رئـــیس او د نظامي تشکیلاتو لرونکو ادارو د لومړۍ درجې اعطاء آمـــرین کـــولی شـــي د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو د تقرر، د استخدام او تبدیلۍ د چارو د ښـــــه تنظیم لپاره هر یو په اړونده برخه کـــې جلا کړنلاره وضع کړي.

## د سرپرست توظیف

**یوولسمه ماده:**

واکمن (ذیصلاح) آمر کـــولی شـــي، پـــــه اړونـــــده قطعـــــه او

رئیس عمومی امنیت ملـــی وآمـــرین اعطـــای درجـــه اول ادارات دارای تشکیلات نظامی می توانند، حســـب لزوم ، افســـران شـــامل صـــلاحیت ردیـــف هـــای مربـــوط ، بریـــدملان وساتنمنان را در بست های مورد نیاز مستقیماً مقـــرر، اســـتخدام و تبـــدیل ویـــا صـــلاحیت خـــویش را بـــه آمرین قدمه های تحت اثـــر تفـــویض نمایند.

(۸) وزیر دفاع ملی، وزیر اموردِاخله، رئیس عمومی امنیت ملـــی وآمـــرین اعطـــای درجـــه اول ادارات دارای تشکیلات نظامی می تواننـــد، جهـــت تنظیم بهتر امورتقرر، استخدام وتبدیلی افسران، بریدملان و ساتنمنان هریـــک در بخش مربوط طرزالعمل جدا گانـــه وضع نمایند.

## توظیف سر پرست

**مادۀ یازدهم:**

آمرذیصلاح می تـــواند، درصـــورت کمبود، غیابـــت افســـر، بریـــدمل و

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداره کې د افسر، بریدمل او ساتنمن د کمبود، غیابت په صورت کې بل افسر، بریدمل او ساتنمن د سرپرست په توګه توظیف کړي.

**تحلیف (سوګند)**

**دوولسمه ماده:**

هغه شخص چې د افسر، بریدمل یا ساتنمن په توګه مقرریږي، مکلف دی لاندې حلف (سوګند) پرځای کړي:

(د لوی خدای (ج) په نوم سوګند یادوم چې د اسلام د سپېڅلي دین پیروي او ملاتړ کوم وطن، خلکو او د افغانستان اسلامي جمهوریت خدمتګاریم، قوانین رعایت، وظیفوي وجایب تعمیل او د افغانستان له قلمرو څخه حراست او ساتنه (پاسداري) کوم، خپله دنده صادقانه او غیر جانبدارانه (په ناپلوۍ سره) ترسره کوم، د قوانینو د حکمونو په تعمیل او تنفیذ کې اهمال نه کوم د خپلواکۍ (استقلال)، ملي واکمنۍ او د ځمکنۍ بشپړتیا په ساتنه کې د ځان له ایثار څخه دریغ نه کوم).

ساتنمن در قطعه واداره مربوط، افسر، بریدمل وساتنمن دیگر را به حیث سرپرست توظیف نماید.

**تحلیف**

**مادهٔ دوازدهم:**

شخصی که به حیث افسر، بریدمل یا ساتنمن مقررمی گردد، مکلف است حلف آتی را بجا آورد:

( به نام خداوند بزرگ (ج) سوگند یاد می کنم که دین مقدس اسلام را پیروی و حمایت نموده به وطن، مردم وجمهوری اسلامی افغانستان خدمتگذاربوده، قوانین را رعایت، وجایب وظیفوی را تعمیل واز قلمرو افغانستان حراست و پاسداری نموده، وظیفه خود راصادقانه وغیرجانبدارانه انجام داده، در تعمیل و تنفیذ احکام قوانین اهمال نورزیده درحفظ استقلال، حاکمیت ملی و تمامیت ارضی ازایثار جان خویش دریغ نمی کنم).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريم فصل

## حقوق، امتيازونه او وجايب

### حقوق او امتيازونه

**ديارلسمه ماده:**

افسران، بريدملان او ساتنمنان د لاندې حقوقو او امتيازونو لرونکي دي:

۱- معاش د هغۀ له اجزاوو او ضمايمو سره.

۲- البسه.

۳- اعاشه.

۴- رخصتي.

۵- ترفيع.

۶- صحي خدمتونه.

۷- تقدير او مکافات.

۸- د دولت د توانمندۍ په صورت کې، اسکان.

۹- استعفاء.

۱۰- تقاعد.

۱۱- د دې قانون او اړوندو تقنيني سندونو له حکمونو سره سم، نورحقوق، امتيازونه اواجتماعي تأمينات.

## فصل سوم

## حقوق، امتيازات و وجايب

### حقوق وامتيازات

**مادۀ سيزدهم:**

افسران، بريدملان وساتنمنان داراى حقوق وامتيازات ذيل مى باشند:

۱- معاش با اجزاء وضمايم آن.

۲- البسه.

۳- اعاشه.

۴- رخصتى.

۵- ترفيع.

۶- خدمات صحى.

۷- تقدير و مکافات.

۸- اسکان، در صورت توانمندى دولت

۹- استعفاء.

۱۰- تقاعد.

۱۱- سايرحقوق، امتيازات وتأمينات اجتماعى طبق احکام اين قانون و اسناد تقنينى مربوط.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حقوقو او امتیازونو اجراء

**څوارلسمه ماده:**

(۱) افسر، بریدمل یا ساتنمن له تحصیلي مؤسسو او تعلیمي مرکزونو څخه د فراغت له نېټې څخه پدې قانون کې د درج شوو حقوقو او امتیازونو مستحق دي.

(۲) که چېرې افسر، بریدمل یا ساتنمن د فعال احتیاط په موقف کې راشي، ددې قانون په نهه ویشتمه ماده کې د درج شوي حکم په رعایت سره، پدې قانون کې له درج شوي معاش، حقوقو او امتیازونو څخه برخمن کېږي.

(۳) د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو د معاش او امتیازونو اندازه د هغوی د خدمت کلونو او رتبو ته په پام سره له هغۀ ټاکلي نورم سره سم چې د حکومت لخوا تثبیتېږي، ورکول کېږي.

که چېرې د افسر، بریدمل یا ساتنمن رتبه د هغوی له بست څخه لوړه وي، د رتبې د معاش امتیاز او په هغۀ صورت

## اجرای حقوق وامتیازات

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) افسر، بریدمل یا ساتنمن ازتاریخ فراغت ازمؤسسات تحصیلی و مراکز تعلیمی مستحق حقوق وامتیازات مندرج این قانون می باشد.

(۲) هرگاه افسر، بریدمل یا ساتنمن درموقف احتیاط فعال قرار گیرد، با رعایت حکم مندرج مادۀ بیست و نهم این قانون از معاش، حقوق وامتیازات مندرج این قانون مستفید می گردد.

(۳) اندازه معاش وامتیازات افسران، بریدملان وساتنمنان با در نظر داشت سال های خدمت ورتب شان مطابق نورم معینۀ که از طرف حکومت تثبیت می گردد، پرداخته می شود.

هرگاه رتبه افسر، بریدمل یا ساتنمن بلند تر از بست آنها باشد، امتیاز معاش رتبه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې د افسر، بریدمل او ساتنمن بست د هغو له رتبو څخه لوړ وي د بست د معاش امتیاز هغو ته ورکول کېږي.

(۴) ریفورم شوي افسران، بریدملان او ساتنمنان له هرو دریو کلونو بالفعل خدمت وروسته له تثبیت شوي نورم سره سم د کتگورۍ د معاش د افزودۍ مستحق گرځي چې د اصلي معاش جزء دی.

(۵) د نظامي سکتور له برخو څخه د یوې د عمومي معاشونو د افزودۍ پر وخت د نظامي سکتور د نورو افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو معاشونه زیاتېږي.

**د تقرر پروخت دیوې میاشتې معاش**

**پنځلسمه ماده:**

د افسر، بریدمل او ساتنمن په توگه د تحصیلي مؤسسو او اړوندو تعلیمي مرکزونو فارغان د تقرر او استخدام پروخت د یوې میاشتې معاش مستحق دي.

در صورتی که بست افسر، بریدمل یا ساتنمن بلند تر از رتبه آنها باشد امتیاز معاش بست به آنها پرداخته می شود.

(۴) افسران، بریدملان و ساتنمنان ریفورم شده بعد از هرسه سال خدمت بالفعل بر طبق نورم تثبیت شده مستحق افزودی معاش کتگوری می گردد که جزء معاش اصلی می باشد.

(۵) حین افزودی معاشات عمومی یکی ازبخش های سکتور نظامی معاشات سایرافسران، بریدملان وساتنمنان سکتور نظامی افزود می گردد.

**یکماهه معاش حین تقرر**

**مادهٔ پانزدهم:**

فارغان مؤسسات تحصیلی و مراکز تعلیمی مربوط، حین تقرر و استخدام به حیث افسر، بریدمل یا ساتنمن مستحق یکماهه معاش می باشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امتيازي معاش

### شپاړسمه ماده:

(۱) افسر، بريدمل يا ساتنمن په لاندې حالاتو کې پراصلي معاش برسېره، لــه امتيازي معاش څخه هم ګټه اخلي:

۱- د الوتنې په صورت کې، د نظامي الوتکې عمله، اړوند کلاس ته په پــام سره.

۲- په خاصو او کماندو قطعاتو کـــې د پراشوت د غورځولو په صورت کې.

۳- د ثقيل (درانهٔ) فني او تخنيکي کار د اجراء په صورت کې، لرې پرتې او صعب العبور ا و سرحدي سيمې.

۴- د صحت په مضرو شرايطو کـــې د دندې د اجراء په صورت کې.

۵- د کشف او د ماين او نورو منفلقه موادو د خنثي کولو د دندې د اجراء په صورت کې.

(۲) د تعليمي، تحصيلي مؤسسو او د ملي اردو د اساســـاتو د زده کـــړې د کورسونو، ملي پوليسو او ملي امنيت او د نظـــامي تشـــکيلاتو لرونکـــو ادارو

## معاش امتيازی

### مادهٔ شانزدهم:

(۱) افسر، بريدمل يا ساتنمن در حالات آتی علاوه بر معاش اصلی، ازمعـــاش امتيازی نيز مستفيد می شود:

۱- درصورت پرواز، عملـــه طيـــاره نظــــامی بانظرداشـــــت کــــلاس مربوط.

۲- درصورت پرتـــاپ پراشـــوت در قطعات خاص وکماندو.

۳- در صورت اجرای کارثقيل فنی و تخنيکی، مناطق دورافتـــاده و صـــعب العبوريا سرحدی.

۴- درصورت اجرای وظيفه درشرايط مضر صحت.

۵- درصورت اجرای وظيفهٔ کشف و خنثی نمودن ماين و سايرمواد منفلـــق ناشده.

(۲) بـــرای متعلمـــين و محصـــلين مؤسســـات تعليمـــی، تحصـــيلی و کورس های آموزش اساســـات اردوی ملی، پوليس ملی و امنيـــت ملـــی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



متعلمينو او محصلينوته، مـــدد معـــاش ورکول کېږي.

(۳) د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې د درج شوي امتيازي معاش او د مـــدد معاش اندازه په اړوند تقنيني سند کـــې ټاکل کېږي.

(۴) د علمي، مسلکي کادر او تحصيلي درجې امتياز د معاش جـــزء دی او د تقاعد په حقوقو کې د محاسبې وړ دی.

(۵) د تعليمي، تحصـــيلي مؤسســـو، قضايي او څارنوالۍ د علمي يا مسلکي کادر د درجې لرونکي افسران چـــې د لزوم ديد پراساس نورو مســـلکي يـــا اداري دندو ته تبديل يا توظيف کېږي، د خپلو کادري درجې د امتياز مستحق دي.

(٦) د افسرانو د تحصيلي سند امتياز، د تحصيلي درجـــې د فراغـــت د ســـند پراساس د معاش جزء دی، په مياشتنۍ توګه په لاندې ډول ورکول کېږي:

۱- د لېســـانس د ســـند لرونکـــی، (۲۰۰۰) افغانۍ.

۲- د ماســـترۍ د ســـند لرونکـــی،

ادارات دارای تشکيلات نظامی، مدد معاش پرداخته می شود.

(۳) اندازۀ معاش امتيازی ومدد معاش مندرج فقره های (۱و ۲) اين مـــاده درســـند تقنينـــی مربـــوط تعيـــين می گردد.

(۴) امتياز کادر علمـــی، مسلکـــی و درجه تحصيلی جزمعاش بـــوده و در حقوق تقاعد قابل محاسبه می باشد.

(۵) افسران دارای درجه کادر علمی يا مسلکی مؤسسات تعليمی، تحصيلی، قضايي و څارنوالی که به اساس لـــزوم ديد به وظايف مسلکی يا اداری ديگر تبديل يا توظيف می شوند، مســـتحق امیـــتازات درجـــۀ کادری خـــويش می باشند.

(٦) امتياز سند تحصيلی افسران، بـــه اساس سند فراغت درجۀ تحصيلی جزء معاش بوده ، ماهوار طورذيل پرداخت می گردد:

۱- دارندۀ ســـند ليســـانس، مبلـــغ (۲۰۰۰ ) افغانی.

۲- دارندۀ ســـند ماســـتری، مبلـــغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴۰۰۰) افغانۍ.

۳- د دکتورا د سند لرونکی (٦۰۰۰) افغانۍ.

(۷) د قضايي انسلاک لرونکو قضاتو، رئيسانو او افسرانو ته د قضائيه قوې د قضاتو معادل د قضايي مسلکي کادر معاش او امتياز او د مسلکي کادر د درجې لرونکو څارنوالانو او افسرانو ته د لويې څارنوالۍ د ادارې د څارنوالانو معادل کادري معاش او امتياز، له اړوندو تقنيني سندونو سره سم ورکول کېږي.

(۸) د افسرانو د قضايي او څارنوالۍ د مسلکي کادر د درجې د منلو (پذيرش)، د ارتقاء او امتياز شرايط، د قضاء او څارنوالۍ په مسلکي کادر پورې له اړوندو تقنيني سندونو سره سم، تنظيم او اجراء کېږي.

## وړيا صحي خدمتونه

### اوولسمه ماده:

برحال او متقاعد افسر، بريدمل او ساتنمن او د هغو اقارب له وړيا صحي

(۴۰۰۰ ) افغانی.

۳- دارندهٔ سند دکتورا، مبلغ (٦۰۰۰ ) افغانی.

(۷) برای قضات، رؤسا وافسران حایز انسلاک قضایی، معاش وامتیاز کادر مسلکی قضایی معادل قضات قوهٔ قضائیه و برای څارنوالان و افسران حایز درجهٔ کادرمسلکی، معاش و امتیازات کادری معادل څارنوالان ادارهٔ لوی څارنوالی طبق سند تقنینی مربوط پرداخت می شود.

(۸) شرایط پذیرش، ارتقا و امتیاز درجهٔ کادرمسلکی قضایی و څارنوالی افسران مطابق اسناد تقنینی مربوطه به کادر مسلکی قضا و څارنوالی تنظیم واجراء می گردد.

## خدمات صحی رایگان

### مادهٔ هفدهم:

افسر، بریدمل یا ساتنمن برحال و متقاعد واقارب آنها از خدمات صحی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــــدمتونو څخـــه ګټـــه اخلـــي.

خپلوان پدې منظور عبارت دي له:

۱- زوج، زوجه، بې مېړه لور او هغه زوی چې (۱۸) کلن سن یې بشپړ کړی نه وي، معلول په تعلیم یا په تحصـــیل بوخت وي.

۲- پلار، مور، نیکه ( بابا)، نیا (انـــی) بې مېړه خور او هغه ورور چـــې (۱۸) کلن سن یې بشـــپړ کـــړی نـــه وي، معلول، په تعلیم یا تحصیل بوخت وي. پدې شرط چې افسر، بریدمل یا ساتنمن د هغو د معیشت متکفل وي.

## د درملنـــې د مـــودې معـــاش او امتیازونه

### اتلسمه ماده:

هغه افسر، بریدمل او ساتنمن چـــې د دندې د اجراء پروخت یا د هغې پـــه سبب ناروغ یا ټپي کېږي، د هېواد د ننه یا په بهر کې په وړیا توګه تر درملنـــې لاندې نیول کېږي، د درملنې تر پایه، له معاش اوپدې قانون کې له درج شـــوو نورو امتیازونو څخه ګټه اخلي.

رایگان مستفید می گردند.

اقارب به این منظورعبارت اند از:

۱- زوج، زوجه، دختر بدون شوهر و پسری که سن (۱۸) سالگی را تکمیل نکرده، معلول، مصروف به تعلیم یـــا تحصیل باشد.

۲- پدر، مادر، پدر کلان، مادر کلان، خواهربدون شوهر و بـــرادری کـــه سن (۱۸) سالگی را تکمیل نکـــرده، معلول،مصروف تعلیم یا تحصیل بوده، مشروط براینکه افسر، برید مـــل یـــا ساتنمن متکفل معیشت آنها باشد.

## معـــاش و امتیـــازات مـــدت تداوی

### مادۀ هجدهم:

افسر، بریدمل و ساتنمنی کـــه حـــین اجرای وظیفه یا به سبب آن مریض یا مجروح می گردد، درداخل یا خـــارج کشور طور رایگـــان تحـــت تـــداوی قرارگرفته، الی ختم تداوی از معاش و سایر امتیازات، مندرج ایـــن قـــانون مستفید می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افسر، بريدمل يا ساتنمن تقدير

**نولسمه ماده:**

(۱) هغه افسر، بريدمل يا ساتنمن چې په سپارل شوو دندو کې له ځانه وړتيا، شجاعت او قهرماني وښيي د قانون له حکمونو سره سم نښان، مډال، افتخاري القاب او تقدير نامې په ورکولو تقديرېږي.

(۲) تقديرنامه له اجزاوو او ضمايمو سره د هغهٔ د يوهٔ مياشتني معاش متضمنه ده چې د اړوند آمر په وړانديز او د لومړۍ درجې اعطاء آمر په منظورۍ اويا د نوموړي مقام لخوا ورکول کېږي.

## کرايه او سفريه

**شلمه ماده:**

(۱) هغه افسر، بريدمل يا ساتنمن چې نوی مقرر، استخدام او يا تبديلېږي، خپله او د کورنۍ غړي يې له ټاکل شوي نورم سره سم چې د حکومت لخوا تثبيتېږي، د کرايې مستحق دی.

(۲) هغه افسر، بريدمل او ساتنمن چې

## تقدير افسر، بريدمل يا ساتنمن

**مادهٔ نزدهم:**

(۱) افسر، بريدمل يا ساتنمن که در اجرای وظايف محوله ازخود شايستگی، شجاعت و قهرمانی تبارز دهد، با اعطای نشان، مدال، القاب افتخاری و تقدير نامه مطابق احکام قانون تقدير می شود.

(۲) تقدير نامه متضمن يکماهه معاش با اجزا وضمايم آن بوده که به پيشنهاد آمرمربوط ومنظوری آمراعطای درجه اول ويا از طرف مقام مذکوراعطاء می شود.

## کرايه وسفريه

**مادهٔ بيستم:**

(۱) افسر، بريدمل يا ساتنمن که جديداً مقرر، استخدام ويا تبديل می شود، خود واعضای فاميل آنها طبق نورم تعيين شده که از طرف حکومت تثبيت می شود، مستحق کرايه می باشد.

(۲) افسر، بريدمل يا ساتنمن که طور

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خدمتي توګه له مرکز څخه په ولایتونو کې اویا له یوهٔ ولایت څخه په بل ولایت کې توظیف کېږي، له ټاکلي نورم سره سم چې د حکومت لخوا تثبیتېږي، د کرایې او سفریې مستحق دی.

## د تحقیق او محاکمې د دورې حقوق او امتیازونه

**یوویشتمه ماده:**

(۱) که چېرې افسر، بریدمل یا ساتنمن د جرمونو په ارتکاب، د اتهام (تور) مورد تر توقیف یا نظارت لاندې ونیول شي د څارنې او توقیف په موده کې هغوی وظیفوي حقوق او امتیازونه تر هغهٔ وخته چې د محکمې په قطعي حکم په حبس محکوم نشي، د اجراء وړ دي.

(۲) که چېرې افسر، بریدمل یا ساتنمن د جرم په ارتکاب مظنون یا تورن (متهم) وي او تر څارنې یا توقیف لاندې ونه نیول شي یا مؤقتاً په بالمال کفالت یا د احضار په ضمانت خوشې شي، مکلف دی اړوندې ادارې ته مراجعه

